پوهنوال مستعلی ( نیازی )
د ښوونې او روزنې پوهنځی
د تاریخ څانګې استاد

# په معاصر سیاسي نهضت باندې د ویښ ځلمیانو د کړنو اغېز

## لنډیز

د سردار شاه محمود خان د صدارت پر مهال د سیاسي فعالیت سرته رسول یو ستونزمن کار و، خو دهغه وخت روڼ اندو په کامل هوډ سره د ویښ ځلمیانو ګوند جوړ کړ، او د دې ګوند د رهبری غړو خپلې عملي مقالې د دې ګوند په نشراتی ارګان د انګار په جریده کې چې د فیض محمد انګار پر مسولیت خپریدله نشرولې ، په دې مقاله کې د ویښ ځلمیانو د کړنو مختلف اړخونو څېړل شوي چې د هغې د دې ګوند مرام ، تشکیلات ، د غړیتوب شرطونه ، په ولایتونو کې ددې د څانګو فعالیت هم څېړل شوی دی ، په مقاله کې دا هم واضح شوي چې تطبیق ساحه یې اوس هم شته ځکه ددې ګوند د رهبری غړو څخه ځینو وروسته نورګوندونه تاسیس کړي لکه چې د نور محمد تره کی د افغانستان دخلق دیموکراتیک ګوند تاسیس کړ .چې نوموړي ګوند د واک ته له رسیدو وروسته په هیواد کې د سترو بدلونونو سبب وګرځیده، همدارنګه نورو ګوندونو د همدې غړو له خوا هم تاسیس شوي د هېواد په سیاسي بهیر کې تر اوسه فعال او د هېواد په سیاسي وضیعت کې اغیزې لري په دې مقاله کې ځینې موندنې لاس ته راغلې او تر یو حده بوري تحلیل شوې هم دي ځکه د هغوی پارلماني مبارزې لپاره د ګونوندونو هڅول ، په دوی کې چارراکو بابلې استفاده . د هغوی لاس ته راوړنې دا وې چې هغوی په ډېرو سختو شرایطو کې داسې اهداف وټاکل چې هغه په رښتني توګه اړین او د ټولنې د اصلاح لپاره اړین وو، هغوی لپاره یې پارلماني او مطبوعاتي مبارزه پیل کړې ، هغوی لومړی ځل یو تشکیلاتی اساسي سازمان جوړ کړ او د هېواد رون اندی یې سوله ایزه مبارزه ته وهڅول . .

کلیدی کلیمې : د ویښ ځلمیانو تاسیس د هیواد په سیاسي نهضت ، د هغوي اغیز ، د هغوي مهمي کړنې او لاس ته راوړنې .

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سریزه**

په **۱۹۴۵** ز کال د دويمي نړيوالي جګړې له ختميدو وروسته په يو شمير هيوادونو کې سياسي خوځښتونه را منځ ته شول چې د **۱۹۴۲** او **۱۹۲۳** ز کلونو تر منځ په ډېرو هېوادونو کې د روڼ اندو له خوا د سياسي ګوندونو بنسټ کېښودل شو ، په ځانګړې ډول هغه هېوادونه چې د شوروي اتحاد په ګاونډ کې و د نوي سيستم اغيزه پرې زياته وه ، چې د ويښ ځلميانو د ګوند رهبري غړو هم په **۱۹۴۷** ز کال خپل فعاليت پيل کړ ، او درېيو کالو په موده کې دوی د خپل ګوند مرام د نور محمد تره کي او قيام الدين خادم پواسطه ترتيب او د **۱۹۵۰** ز کال کې د کنګرې له خوا تصويب کړ . په مرام کې اسلام او پاچا ته درناوي ، استقلال ، ملی افتخاراتو ته احترام ، د مطبوعاتو ازادی ، د دولت د ملی وحدت ټينګول ، د ملي ژبی احترام ، د ښځو مقام او حقوقو درناوی ، پښتونستان مسالې او د پښتو خود اراديت او نور موضوعات په کې ځای شوي وو . ( **ميرزا محمد لودی ، ۱۳۹۲** ) .

د غورځنګ د غړيتوب شرايط او د غړو دندې هم روښانه شوې وې او د ويښ ځلميانو غورځنګ له درېيو لارو څخه خپله مبارزه کې ګټه اخسته

۱_ پارلماني فعاليت .

۲_ ملي جبهي جوړول او سياسي فعاليت .

دوی په هرو پنځلسو ورځو کې يو ځل غونډه کوله او پنځه افغانی حق الصضويت يې ټاکلی وو ، هر ولايت يوه اجرائيه کمېټه در لوده . ( پنجشيری ، ۱۳۷۷، م . ۱۱۷ )

په دې مقاله کې د ويښ ځلميانو ، فعاليت او هغوی په اړه د اشخاصو مختلف نظريات پيدا او تحليل کړي دي .

موخه

- ✓ د افغانستان د سياسي ګوندونو له جملې څخه د ويښ ځلميانو په کړونو باندې پوه شو .
- ✓ د ويښ ځلميانو د فعاليت په اوسنۍ سياسي بهير باندې څومره اغيزه لري .
- ✓ په دې پوه شو چې د ويښ ځلميانو ګوند څه ډول يو ګوند وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتني

ايا د ويښ ځلميانو گوند د اوس مهال د کوم گوند سره ايديا لوژيکي اړيکې لري؟

د افغانستان د خلق ديموکراتيک گوند په تاسيس کې د ويښ ځلميانو د گوند کړنو او بنسټ گرو څه اغېزه در لوده ؟

اهميت

د افغانستان د ويښ ځلميانو دگوند فعاليت او تاسيس د افغانستان د معاصرتاريخ يو له مهمو سياسي موضوعاتو څخه دی او د پوهنتون يو شمېر محصلينو او هم د ټولنې ځوان قشر په دې برخه کې معلومات کم دي او يا د گوند د فعاليت په اړه پوښتنې لري هڅه وشوه چې په دې مقاله کې را ټول شوي مطالب تر يوه حده پورې د دوی پوښتنې حل او ددې گوند د تاسيس او کړنو په پوهيدو کې د محصلينو او نورو ځوانانو سره مرسته وکړي .

د څېړنې متيود او کړنلاره

د دې مقالي د ليکنې او څېړنې بنه کتابتوني ده چې په اړه يې د گټور معلومات له عملي سرچينو ، معتبرو او نوو چاپ شويو اثارو څخه را ټول شوي د موخې له مخې ياده څېړنه تحليلي ده او د مقالي په مناسبو ځايونوکې په منظم ډول ځای پر ځای شوي دي د ليکنې ژبه يې روانه اود پوهيدو وړ ده . لوستونکي کولای شي په اسانۍ سره ترې گټه واخلي ، په ځينو برخو کې بعضې مطالب د استادانو سره هم په شفاهي ډول شريک شوي دي .

تيرو ليکونو ته کتنه

ويښ ځلميانود ملي شورا د اوومې دورې په ټاکنو کې برخه واخسته د دې گوند پارلمانۍ ډلگۍ گل پاچا الفت ، عبدالروف بينوا او فيض محمد انگار وو ،چې وروسته ور سره عبدالرحمن ، محمودی ، مير غلا محمد غبار ، خان محمد خسته او سيد محمد دهقان هم يو ځای شول ( پينجشيری ، ۱۳۷۷ ، م ۱۱۸ ) .

چې دغه کړنې په اوس او راتلونکي کې د نورو گوندونو د کړنو لپاره يوه ښه بېلگه ده . ويښ ځلميانو په مطبوعاتي برخه کې خپل پروگرام او مرام لومړی ځل په ۱۹۵۰ ز کال د انگار په جريده کې چې فيض محمد انگار په مسوليت خپرېده خپور کړ ، خو په دې وجه دا جريده بنده

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه چې محمد حسن صافی په نوموړي ورځپاڼه کې یوه مقاله نشر او په دې مقاله کې یې د محصلینو د اتحادیې څخه کلکه دفاع کړې وه ، خو دې ګوند په کندهار کې د ورور غږ په نوم جریده خپره کړه چې د دوو ګڼو له نشریدو وروسته هغه هم بنده شوه ، د انګار په جریده کې د مهمو سیاسي شخصیتونو لکه عبدالرحمن محمودي ، میر غلام حمد غبار ، نور محمد تره کی ، عبدالروف بینوا ، غلام حسن صافی او د پښتونخوا شاعر یتیم ، احمد علی کهزاد ، علی اصغر شعاع ، ابراهیم خیل فراهي ضیا قاري قاضی زاده نور احمد برېښ ، نیک محمد پکتیانی ، مقالې نشریدلې ، او د ویښ ځلمیانو دویم نشراتي ارګان روش جریده چې ګل پاچاپر مسولیت خپرېدله په نوموړي جریده کې عبدالروف بینوا ، قیام الدین خادم، عبدالرحمن محمودي ، اسعد احسان او د نورو مقالې نشریدلي .( پینجشیری ، ۱۳۷۷، م ۱۱۸ ) .

عزیز نعیم د ویښ ځلمیانو د ګوند دایدیالوژیک ماهیت په اړه داسې نظر لري (( جبش ویش ځلمیانو عمدتا توسط یک عده روشنفکران پښتون به وجود امده و بیشتر یک جنبش پشتوني بود و ما در اینجا پردازهای ( طیقهای ) مختلف را می بینیم از سرخ ګرفته تا سبز یعنی از یک ایدیالوژی خاص پیروی نمی کرد )) ( طنین ، ۱۳۸۴ ، م . ۸۲ ) .

میر محمد صدیق فرهنګ هم له ښاغلي عزیز نعیم سره په یو نظر دی او لیکي : (( د ویښ ځلمیانو په تاسیس کې عمدتا د پښتو ژبو لیکوالانو لکه ګل پاچا الفت ، قیام الدین خادم ، عبدالروف بینوا ، فیض محمد انګار ، غلام حسن ساپی ، نورمحمد تره کی ، محمد انور اڅکزي او نورو برخه لرله )) ( میرزا محمد لودي ، ۱۳۹۲ ، م . ۱۰۵ ) .

د ویښ ځلمیانو ګوند د مدیره هئیت له خوا رهبري کیده چې د کنګرې له خوا ټاکل کېده په لومړي مدیره هئیت کې نور محمد تره کي ، عبدالروف بینوا ، قیام الدین خادم او محمد ارسلان د کنګرې له خوا ټاکل شوي وو . د دې ګوند لومړی کنګره د نور محمد تره کی په کور کې دایره شوه لاندې کسانو پکې ګډون کړی وو ، نور محمد تره کي ، عبدالروف بینوا ، ګل پاچا الفت ، قیام الدین خادم ، صدیق الله ربنتین ، فیض محمد انګار ، محمد ارسلان سیلمي ، نیک محمد پکتاني ، ګل شاه صافي، پاینده محمد روهي ، عبدالقدوس پرهیز ، نورمحمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

پونده ، عبدالکریم نذیهي ازبک ، لعل محمد احمدي ، عبدالصمد پتنگ ، غلام رحمان جرار ، ولي زلمي ، عبدالهادي خوژمن ، شامراد او ابو الحسن ، ویښ ځلمیانو رئیس او منشي نه در لود ( پنجشیری ، ۱۳۷۷ ، م . ) .

غبار صاحب هم په دې ټکي تاکید کړی چې ویښ ځلمیانو گوند په خپل نشراتي ارگان د انگار په جریده کې د ټولنیز عدالت ، ظلم او رشوت پر ضد مضامین خپرول چې د ځوانانو په بیدارۍ کې یې ستر رول در لود ، نوموړې جریده د ۱۹۵۱ ز کال کې خپریده وروسته بنده شوه چې ځای د ولس جریدې ته پرېښووده د ولس جریده چې د گل پاچا الفت په مسوُلیت خپریده د دې گوند د مرام په خپرېدو او د ټولنې د روڼ اندو په بیدارۍ او مبارزي ته د هغوی په هڅولو کې فعاله ونډه در لوده ( غبار ، ۱۳۹۳ ، م . ۲۲۸ ) .

ویښ ځلمیانو گوند د نورو گوندونو سره ډېر ه دوستانه اړیکې در لودې په همدې سبب د دوې په مقابل کې هیڅ لورې غبرگون ونه ښود ، خو یوازي حاکمي طبقي ( پاچا ) د ویښ ځلمیانو سره د مقابلې په خاطر د مجید زابلي ، سید ذکریا په لارښوونه او د پاچا په حکم په ۱۹۵۰ ز کال د ملي دیموکراتیک گوند تاسیس کړ ( غبار ، ۱۳۹۳ ، م . ۲۳۰ ) .

سردار محمد دادو خان چې د کورنیو چارو وزیر و د ویښ ځلمیانو د رهبرۍ غړې خپل حضور ته وغوښتل او ورته یې وویل : په خپل حزب کې بهرنیو اجیرانو ته اجازه ور نه کړي . داود خان زیاته کړه زه باور لرم د ویښ ځلمیانو ځینې غړي لکه گل پاچا الفت که یو ډک ټوپک د ده په لاس کې وي او زما پر خوا یې نیولی وي زه اطمینان لرم چې پرما ډ ز نه کوي ( فراهي ، ۲۰۰۲ ، م . ۷۹ ) .

محمد ابراهیم عطایي لیکي : د لومړي ځل لپاره ویښ ځلمیانو په ورځینو چارو کې پر دولت باندې په سیاسي ، اقتصادي او فرهنگي چارو کې انتقاد وکړ چې د انگار جریده د یوې سیاسي ډلې د ژبې حیثت یې در لوده ) ( عطایي ، ۱۳۸۹ ، م. ۲۴۲ ) .

عبدالحمید مبارزه د ویښ ځلمیانو د مطبوعاتي او سیاسي فعالیت په اړه داسې نظر لري :
«اولین نشریه که در پرتو دیموکراسی رول داشت و بوجود امد جرید انگار بود که به امتیازات و مدیریت مسول فیض محمد انگار به نشرات اغاز کرد ، نور محمد تره کی اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کننده اساسی این جریده بود و عبدالروف بینوا و محمد بشیر سراج به نام مستعار حلاج و شوخک از نویسنده گان ان بود ، جریده انگار جنبه انتقادی داشت بیشتر حکومت را به شکل صریح و یا با کنایه انتقاد میکرد به این شکل میخواست در بین طبقات روشنفکران و جوانان نفوذ نماید و ساحه فعالیت خود را از ولایات به سطحه کشور پهن سازد ، یکبار دیگر تلاش کرد تا داکتر محمود با خود همراه سازد و جرگه بزرگی در باغ بابر به همین منظور ترتیب داد ، ولی داکتر محمود نسبت محدودیت که نام این حزب و منحصر به جوانان میشد ایتلاف را به آن نپذیرفت و ترجح داد که جداگانه فعالیت سیاسی خود را ادامه بدهد( مبارز، ۱۳۷۵ ، م. ۱۹۰ _ ۱۹۱ ).

پوهنیار فریاد افغان د ویښ ځلمیانو د گوند په اړه داسې نظر لري :... ولی در مجموع باید گفت که این حزب مفکوره های وطنپرستی را تبلیغ میکرد بیدون مداخله و کمک سیاسی ، اقتصادی خارجی تاسیس گردید ، مصارف این حزب از طریق اعضای ان تمویل میشد ، رهبری نهضت ویش زلمیان را عبدالروف بینوا به عهده داشت و مسولیت نشر کتاب به نام ویش زلمیان را به او سپرد که در آن مقاصد مختلف در مورد وظایف ملی جوانان به چاپ رسید ، ارگان نشراتی ویش زلمیان انگار نام داشت مدیر مسوُل آن فیض محمد انگار بود( افغان ، ۱۳۸۴ ، م. ۲۷۱).

## پایله یا موندنی

د دې گوند لاس ته راوړنې په هغه وخت کې د اهمیت وړ وي ځکه په داسې حال کې چې ایدیالوژیکي او فکري یوالي یې نه درلوده . خو وتوانیدل چې د یو گوند بنسټ کښېږدي هغه هم په داسې شرایطو کې چې دیموکراسي هم په رښتینې توگه موجوده نه وه سیاسي فعالیت یو غټه ستونزه وه ، خو دې رونړ اندو وکولای شول چې د سیاسي مبارزې له پاره لاره پرانیزی . همدوی د فعالیت له برکته وه چې محمود او غبار د وطن گوند او د پاچا کورنۍ د ځینو رونړ اندو په ملگرتیا د ملي دیموکراتیک گوند بنسټ کېښود . وروسته تر دوې د کابل ښار د سیاسي فعالیت په پلازمینه بدل شو څرنگه چې محترم عزیز نعیم او فرهنگ صاحب دا گوند یو پښتوني حرکت بللی ، خو داسې نه ده دوی د افغانستان د خلکو د سوکالۍ له پاره مبارزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوله او د دوی دگوند په مرام کي د ټولو ژبو برابري او ټولو خلکو د برابرو حقونو موضوع مطرح کړي وه ، دا چې د پښتو لیکوالانو شمېر په کې ډېر له همدې امله عبدالرحمن محمود ، میر غلام محمد غبار او فرهنگ ورځني جلا شول اودا یې یو پښتوني حرکت وباله چې د دوی دا ادعاګاني رښتیا نه وي د غو مشرانو د ملي یوالي ، د هېواد د اقتصادي ، سیاسي او روغتیایي پرمختګ هیله در لوده او له ظلم ، رشوت او خرافاتو سره یې مبارزه کوله ، نه د قومونو برتری او تفوق .

د ښاغلي فریاد افغان د قول په اساس دا ګوند له بهرنۍ مرستې پرته تاسیس او د خپلو غړو د مرستو حق العضویت او اعانی له لارې یې خپلې اړتیاوې پوره کولې نور سیاسي ګوندونه هم باید دا د ویښ ځلمیانو کړنلاره تعقیب کړي او د پردیو له غلامۍ ځخه د ډډه وکړي .

د ویښ ځلمیانو د رهبرۍ د غړو د کړنو په پایله او اغېزه کې چې وروسته نور محمد تره کي ، عبدالرحمن محمودی ، میر غلا محمد غبار ، جلا جلا ګوندونه تاسیس کړل او له هغوي ځخه یې په الهام سره لومړنۍ پارلماني مبارزې ته مخه کړه .

ویښ ځلمیانو په خپل مرام کې د استقلال ، دیني فریضي او دیني احکام محترم ګڼل او عملي کول، چې وروسته نورو ګوندونو هم په خپل مرام کې د ویښ ځلمیانو د مرام ډېر ټکي را اخستي دي او دوی باید د هغوي په خیر دین ، ثقافت او استقلال ته احترام ولري .

ویښ ځلمیانو لومړی ځل افغانان سوله ایزي مبارزې ته وهڅول ځکه دوی په خپله په پارلماني مبارزه کې ګډون وکړ، او یو پارلماني ګروپ یې جوړ کړ .

ویښ ځلمیانو په لومړي ځل د یو سیاسي ګوند په توګه د دولت ، اقتصادي ، سیاسي ، فرهنګي چارې انتقاد کړې چې دا کړنه د نورو سیاسي ګوندونو له پاره یو الهام او د کړنو منبع وه .

## مناقشه

ویښ ځلمیانو د فعالیت له پیل ځخه ترتجزیې پورې په پارلمانی ، مطبوعاتی اوسوله ایزه مبارزې کړي او دهېواد روڼ اندي یې سیاسي مبارزې لپاره وهڅول په دې اړه ډېرې څېړنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي او دا څرګنده شرې چې نوموړی نهضت يو افغاني نهضت وه او د ټولو افغانانو د ژوند د بهبود لپاره يې مبارزه کوله.

سيد قاسم رښتيا ليکي : (( نجيب الله خان که وزير معارف شد ميخواست که در جاهای که زبان پښتو زيات مادری است تدريس به زبان پشتو و در نقاط که مردم فارسی زبان است به فارسی تدريس شود و پشتو لسان دوم باشد که اين نظر معقولتر و عادلانه تر بود .)) ( رښتيا ، ،م . ۲۳ ) .

ويښ ځلميانو په خپل مرام کې له دري ژبې سره د پښتو ژبې برابروالی ټاکلی و ، چې دواړه ژبې بايد مساوي ډول وکارول شي . خو وروسته نجيب الله د پوهني وزير به دا خبره په درسي نصاب کې ځای کړه اوس هم بايد په هيواد کې د ټولو ژبو د خونديتوب په ځانګړي ډول د دوو ژبو پښتو او دري تر مينځ بايد موازنه وساتل شي .

دا چې ويښ ځلميانو ګوند د هغوی په حساسيت پوهيدل په همدې خاطر ځېړنې وخوښوده چې د دې ګوند د جوړيدو وروسته د ګوند دد موسيسينو څخه يو شمير ګوندونه لکه د وطن ګوند ، ملي ديموکراتيک ګوند ، مساوات ګوند ، خلق ديموکراتيک ګوندونه د اټول ګوند او نور ګوند جوړ شول ، دوی ټول لومړی پارلماني او مطبوعاتي مبارزه پيل کړه او له ويښ ځلميانو څخه يې په الهام اخستلو يې خپل نشراتي ارګانونه نشر کړل او زياد ګوندونو دخپلو ورځپاڼو په نوم هم شهرت پيدا کړ.

چې ټول سياسي خوځښتونه دي دويښ ځلميانو په څير د افغانستان استقلال ، اقتصادي پرمختګ او ملي يوالي لپاره مبارزه وکړ ي تر څو هېواد له دې بدبختي څخه نجات پيدا کړي .

پايله اخيستنه

د ويښ ځلميانو ګوند د خپل فعاليت له پيل څخه تر پايه پورې خپلو موخو ته د رسيدو لپاره پارلماني مبارزه او مطبوعاتي هڅې وي نوموړ ي ګوند د فکري اتحاد په موجوديت کې هم دسياسي مبارزې لاره پرانستيله او دولتي چارو کې يې انتقال کړل او د اصلاح لپاره يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی ځانګړي وړاندیزونه در لودل. ویښ ځلیمانو ګوند د افغانستان ټول خلک یو والي ته رابلل دوی د نظام د اصلاح غوښتنه یې کوله تر څو هیواد د بدبختۍ څخه نجات پیدا کړي ؟
د دغه ګوند په ترکیب کې د هرې طبقې او قشر استازي موجود وو ، په دې ګوند کې د بېلا بېلو ذهنیتونو خاوندان وو .د دې طبقاتي او ذهني تضاد سره سره دې ګوند خپل یوالی وساته خو کرار کرار ضعیفه شو . تر څو د زیات فشار او سیاسي ناامنیو له امله بینوا استعفا ور کړه خو د منظورۍ لپاره یې د ګوند‌ې غړو د غوندي جوړیدو ته هم ونه کتل خو بیا هم نوموړي ګوند د شاه محمود خان د صدارت پر مهال یو سیاسي حرکت پیل او مطبوعاتي برخه کې یې ډېر کار وکړ ، او روڼ اندي یې پارلماني مبارزی ته هم وهڅول او د هېواد د روڼ اندو له پاریې لاره پرانستله چې د دې ګوند له منځه تللو وروسته یو شمېر ډېر ګوندونه د دې ګوند د غړو او مخالفینو له خوا تاسیس شول چې د هېواد په معاصر سیاسي وضعیت باندې یې ژوره اغیزه در لوده اوحتی ځینو یې د هېواد سیاسي وضعیت ته بدلون ور کړ . پایله اخیستنه داسې شوه چې د ویښ ځلمیانو مبارزې ته کتنو او اوسنیو حالاتو په نظر کې نیولو سره جګړه کومه مثبته پایله نلري ټول ګوندونه باید سوله ایزه ټاکنیزه مبارزه وکړي او د ټاکنو له لارې باید واک تر لاسه کړي او د هیواد پر سیاسي تاریخ کې د خپل اغېزناک رول اداء کړي تر څو ګاوندیان د ګوندي احتلافاتو څخه ګټه وانخلي

وړاندیزونه

- سیاسي خوځښتونو او ګوندونو فعالیت د هیواد په اقتصادي ، سیاسي وضیعت باندې پوره اغیز لري وړاندیز دا دی چې ټول سیاسي ګوندونه او سازمانونه باید د خپلو سازماني ګټو څخه د هېواد ملي ګټې مهمې وګڼي او هغوی ته د لومړیتوب حق ور کړي .
- ټول سیاسي ګوندونه باید د هېواد د آبادۍ او په هېواد کې دملي وحدت ټینګوالي لپاره مبارزه وکړي تر څو افغانان د یو واحد ملت په توګه د واک او مبارزې په پایله کې د هوسا ژوند خاوندان شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ماخذونه

۱_ پینجشیری ، دستگیر . ( ۱۳۷۷ هـ ش ) . ظهورو زوال حزب دموکراتیک خلق افغانستان . پېښور : کتاب فروشي فضل .

۲_ رښتیا ، سید قاسم .( ) . خاطرات سیاسی سید قاسم رښتیا . با احتمام محمد قوی کوشانی .

۳_ طنین ، ظاهر .( ۱۳۸۴ ) . افغانستان در قرن بیستم . تهران : طیف نگاه .

۴_ عطایي ، محمد ابراهیم .( ۱۳۸۹ ل ) . د افغانستان پر معاصرتاریخ یو لنډه کتنه. کابل : میوند خپرندویه ټولنه .

۵_ غبار ، میر غلام محمد .( ۱۳۹۳ ) . افغانستان د تاریخ په تګلوري کې ( لومړي او دویم ټوک ) ژباړن : پوهاند محمد بشیر دودیال . کابل : میوند خپرندویه ټولنه .

۶_ فراهی ، عبدالغفار . ( ۲۰۰۲ ز ) . افغانستان د دیموکراسی او جمهوریت په کلتو کې .

۷ _ فریاد ، افغان ، نجم الدین .( ۱۳۸۴ ل ) . نگرش بر تاریخ معاصر افغانستان .

۸_ لودي ، میرزا محمد .( ۱۳۹۲ ) . د ویښ ځلمیانو غورځنګ . کابل : د افغانستان د علومو اکاډمي .

۹_ مبارز ، عبدالحمید . ( ۱۳۷۵هـ ش ) . تحلیل واقعات سیاسی افغانستان با اهتمام محمد قوی کوشان.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**